# دافغانستان اسلامي جمهوريت
## دعدليې وزارت

# رسمي جريده

### فوق العاده گڼه

- د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې (اقامت) قانون
- د ښځو آزار او ځوروللو منع مقرره

- قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی در جمهوری اسلامی افغانستان
- مقررهٔ منع آزار و اذيت زنان

د خپرېدو نېټه: د۱۳۹۴ هـ.ش کال د تلې دمياشتې (۱۱)
پرله پسې نمبر: (۱۱۸۵)

تاريخ نشـر: (۱۱) ميزان سال ۱۳۹۴ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۸۵)

## فهرست مندرجات

## مقررهٔ منع آزار و اذیت زنان

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ اول: | مبنی | ۵۷ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۵۷ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۵۷ |
| | **فصل دوم** | |
| | **ارائه شکایت در مورد آزار و اذیت زنان** | |
| مادهٔ چهارم: | ارائه شکایت | ۵۹ |
| مادهٔ پنجم: | آزار واذیت زنان در محلات عامه | ٦۱ |
| مادهٔ ششم: | عدم افشای آزار واذیت | ٦۱ |
| | **فصل سوم** | |
| | **بررسی شکایات مربوط به آزار و اذیت زنان** | |
| مادهٔ هفتم: | مرجع بررسی شکایات | ٦۲ |
| مادهٔ هشتم: | معرفی متخلف | ٦۲ |
| مادهٔ نهم: | تخطی وتأدیب | ٦۳ |
| مادهٔ دهم: | انصراف از شکایت | ٦۳ |

مادهٔ یازدهم: طرز فعالیت کمیسیون............................۶۴

فصل چهارم

احکام نهائی

مادهٔ دوازدهم: اتخاذ تدابیر..........................................۶۴
مادهٔ سیزدهم: برنامه های آگاهی دهی.............................۶۵
مادهٔ چهاردهم: انفاذ.......................................................۶۵

## د ښځو ازار اوځورولو منع مقرره
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

مبني

لومړی ماده:

دغه مقرره، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د (۱۶) مادې د (٦) جزء د حکم له مخې وضع شوې ده.

هدفونه

دوه یمه ماده:

ددې مقررې هدفونه عبارت دي له:

۱- د ښځو په آزار او ځورولو پورې د اړوندو شکایتونو څېړل.

۲- د ازار او ځورولو د متضررینو ملاتړ.

۳- د ښځو له ازار او ځورولو څخه مخنیوی.

۴- ښځو ته ازار او ځورېدو پرته د کار، ښوونې او تحصیل د زمینې برابرول.

اصطلاحگاني

دریمه ماده:

لاندې اصطلاحگاني په دې مقرره کې

## مقررهٔ منع آزار و اذیت زنان
## فصل اول
## احکام عمومی

مبنی

مادهٔ اول:

این مقرره به تأسی از حکم جزء (٦) مادهٔ (۱٦) قانون منع خشونت علیه زن، وضع گردیده است.

اهداف

مادهٔ دوم:

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- بررسی شکایت مربوط به آزار و اذیت زنان.

۲- حمایت از متضررین آزار و اذیت.

۳- جلوگیری از آزار و اذیت زنان.

۴- فراهم نمودن زمینهٔ کار، تعلیم و تحصیل، بدون آزار و اذیت برای زنان.

اصطلاحات

مادهٔ سوم:

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم

دغه مفاهیم افاده کوي:

۱- ازار او ځورول: له ښځې شخصه د ناوړې استفادې په منظور، مزاحمت یا له ښځې سره فزیکي تماس یا د اخلاقو مغایر پوستر، تصویرونو، صوتي او تصویري کلیپونو خپرول او نشر یا کلامي ازار یا غیر کلامي ازار یا نا مشروعې غوښتنې، تهدید او له نه ارتقاء او مثبتې ارزونې یا تبدیلي یا له دندې څخه په ایستلو ویرول (ډارول) دي.

۲- مزاحمت: هغه عمل دی چې د ښځې انساني حیثیت او کرامت ته زیان ورسوي او یا د هغې د ځوریدو (رنځیدو) او د ارعاب (ډار) او تحقیر باعث شي.

۳- فزیکي تماس: د نامحرمې ښځې د ځان (بدن) لمس کول دي.

۴- کلامي ازار: د غیر اخلاقي کلمو، جملو، شوخیو او طنزونو کارول، د بدن، رفتار (تګ) یا جامو توصیف تیلفوني مزاحمت د هغو آیدو یا احساساتو اظهارول (څرګندول) دي چې د ښځې رواني آرامتیا او امنیت ته زیان ورسوي.

۵- غیر کلامي ازار: په رسنیو کې د

ذیل را افاده می نماید:

۱-آزار و اذیت: مزاحمت یا تماس فزیکی با زن یا پخش و نشر پوستر، تصاویر، کلپ های صوتی و تصویری مغایر اخلاق یا آزار کلامی یا آزارغیر کلامی یا خواسته های نامشروع، تهدید و ترساندن از عدم ارتقاء و ارزیابی مثبت یا تبدیلی ویا اخراج از وظیفه به منظور سوء استفاده از زن می باشد.

۲- مزاحمت: عملی است که به حیثیت و کرامت انسانی زن لطمه زند و یا باعث رنجش و ایجاد فضای ارعاب و تحقیر وی شود.

۳- تماس فزیکی: لمس کردن بدن زن نا محرم است.

۴- آزار کلامی: به کار بردن کلمات، جملات، شوخی ها و طنزهای غیر اخلاقی، توصیف از بدن، رفتار یا لباس، مزاحمت تیلفونی، اظهار ایده ها یا احساسات است که به آرامش و امنیت روانی زن صدمه برساند.

۵- آزار غیر کلامی: به نمایش گذاشتن

جنسي مسايلو په اړه د شرموونکو (توهين آميزو) تصويرونو، مطالبو نمايش ورکول يا ايميل کول، عکس اخيستل، له اجازې پرته د ښځې يا کورنيو د فلم او تصويرونو خپرول، ويشل او نور موارد چې د ښځې شخصيت او د هغې رواني سلامتي ته د زيان باعث شي.

٦- اداره: وزارتونه، دولتي ادارې د ملکي او نظامي په شمول خپلواک کميسيونونه، ښوونيزې او تحصيلي مؤسسې، تصدي ګانې، خصوصي او ګډ (مختلط) تشبثات، نا دولتي مؤسسې او د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې مېشتې بهرنۍ مؤسسې چې کارکوونکې په هغو کې په کار، زده کړه يا تحصيل بوخت وي.

## دوه يم فصل

## د ښځو د ازار او ځورولو په هکله د شکايت وړاندې کول

### د شکايت وړاندې کول

څلورمه ماده:

(۱) که چېرې ښځه په اداره کې د ازار او

تصاوير يا مطالب توهين آميز در رابطه به مسايل جنسي در رسانه ها يا ايميل کردن، عکس گرفتن، نشر، توزيع فلم، و تصاويرزن يا خانواده ها بدون اجازه وساير مواردی که باعث صدمه به شخصيت زن وسلامت روانی وی گردد.

٦- اداره: وزارت ها، ادارات دولتی اعم از ملکی ونظامی، کميسيون های مستقل مؤسسات تعليمی وتحصيلی، تصدی ها، تشبثات خصوصی و مختلط، مؤسسات غير دولتی و مؤسسات خارجی مقيم جمهوری اسلامی افغانستان که کارکن در آن مصروف کار، تعليم يا تحصيل می باشد.

## فصل دوم

## ارائه شکايت در مورد آزار و اذيت زنان

### ارائه شکايت

مادهٔ چهارم:

(۱) هرگاه زن در اداره مورد آزار و اذيت

ځوروولو مورد ګرځېدلي وي، کولای شي اړوندې ادارې ته شکایت وکړي.

(۲) د ښځو د ازار او ځوروولو شکایتونو ته د رسیدګی په منظور، په مرکز کې په اړونده اداره کې په لاندې ترکیب سره د ښځو د ازار او ځوروولو د منع کمېسیون جوړېږي:

۱- د وزارت یا اړوندې ادارې نماینده د رئیس په توګه.

۲- د عدلیې وزارت د حقوقو د ادارې نماینده دغړي په توګه.

۳- د ښځو د چارو وزارت نماینده د غړي په توګه.

۴- د ارشاد، حج او اوقافو وزارت نماینده د غړي په توګه.

(۳) په ولایتونو کې د ښځو د ازار او ځوروولو شکایتونو ته د رسیدګی په منظور، په لاندې ترکیب سره، د ښځو د ازار او ځوروولو د منع کمېسیون جوړېږي:

۱- د ولایت نماینده د رئیس په توګه.

۲- د عدلیې رئیس د غړي په توګه.

۳- د ښځو د چارو رئیس د غړي په توګه.

قرار گرفته باشد ،می تواند به ادارۀ مربوط شکایت نماید.

(۲) به منظور رسیدگی به شکایات آزار و اذیت زنان کمیسیون منع آزارواذیت زنان درادارۀ مربوط در مرکز به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- نمایندۀ وزارت یا ادارۀ مربوط به حیث رئیس.

۲-نمایندۀ اداره حقوق وزارت عدلیه به حیث عضو.

۳- نمایندۀ وزارت امور زنان به حیث عضو.

۴-نمایندۀ وزارت ارشاد ،حج واوقاف به حیث عضو.

(۳)به منظور رسیدگی به شکایات آزار واذیت زنان در ولایات ،کمیسیون منع آزارواذیت زنان به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- نمایندۀ ولایت به حیث رئیس.

۲- رئیس عدلیه به حیث عضو.

۳- رئیس امور زنان به حیث عضو.

۴- د ارشاد، حج او اوقافو رئیس د غړي په توگه.

(۴) د ښځو د ازار او ځورولو کمېسیون، په دې مقرره کې د کمېسیون په نوم یادېږي.

## په عامه ځایونو (محلاتو) کې د ښځو ازار او ځورول

پنځمه ماده:

(۱) که چېرې ښځه په عامه ځایونو کې، د ازار او ځورېدلو مورد وگرځي، کولای شي نېږدې امنیتي مرجع ته شکایت وکړي.

(۲) پولیس مکلف دي، د دلایلو او شواهدو د موجودیت په صورت کې، شکایت ته رسیدگي وکړي.

## د ازار او ځورولو نه افشاء

شپږمه ماده:

(۱) ازار او ځورولو ته رسیدگي چې دښځې حیثیت ته د زیان موجب شي، نه افشاء کېږي.

(۲) که چېرې د ازار او ځورولو مرتکب، په اداره کې مستقیم آمر یا واکمن

۴-رئیس ارشاد ،حج واوقاف به حیث عضو.

(۴) کمیسیون منع آزار واذیت زنان دراین مقرره بنام کمیسیون یاد می گردد.

## آزار واذیت زنان در محلات عامه

مادهٔ پنجم:

(۱) هرگاه زن در محلات عامه مورد آزار و اذیت قرار گیرد، میتواند به نزدیکترین مرجع امنیتی شکایت نماید.

(۲) پولیس مکلف است، درصورت موجودیت دلایل وشواهد، شکایت رامورد رسیدگی قرار دهد.

## عدم افشای آزارواذیت

مادهٔ ششم:

(۱) رسیدگی به شکایت آزار و اذیت که موجب صدمه بر حیثیت زن شود، افشا نمی گردد.

(۲) هرگاه مرتکب آزار و اذیت آمر مستقیم یا آمرذیصلاح در

آمروي، شاکي يا د هغه قانوني ممثل کولای شي د ښځې پرخلاف د تاوتريخوالي د منع عالي کميسيون ته شکايت وکړي.

(۳) د ښځې پرخلاف د تاوتريخوالي د منع عالي کميسيون، موضوع څېړي، د دلايلو او شواهدو د موجوديت په صورت کې، سرغړوونکی اړوندې مراجعوته ورپيژني.

## درېيم فصل

## په ښځو پورې د ازار او ځورولو د شکايتونو بررسي (څېړل)

د شکايتونو د بررسۍ مرجع

اوومه ماده:

د کميسيون په واسطه په دولتي ادارو کې د ښځو د ازار او ځورولو په اړه د شکايتونو بررسي ته، په لنډ وخت کې رسيدګي کېږي.

د سرغړوونکي معرفي

اتمه ماده:

که چېرې ازار او ځورېدنه جرمي وصف ولري او دعدلي تعقيب ايجاب وکړي،

اداره باشد، شاکی و يا ممثل قانونی وی می تواند به کميسيون عالی منع خشونت عليه زن شکايت نمايد.

(۳) کميسيون عالی منع خشونت عليه زن به موضوع رسيدگی نموده، در صورت موجوديت دلايل وشواهد، متخلف را به مراجع مربوط معرفی می نمايد.

## فصل سوم

## بررسی شکايات مربوط به آزار و اذيت زنان

مرجع بررسی شکايات

مادهٔ هفتم:

بررسی شکايات مبنی بر آزار واذيت زنان درادارات دولتی توسط کميسيون به اسرع وقت مورد رسيدگی قرار می گيرد.

معرفی متخلف

مادهٔ هشتم:

هرگاه آزار واذيت وصف جرمی داشته و ايجاب تعقيب عدلی را نمايد، کميسيون

کمېسیون سرغړوونکی، عدلي او قضایي مرجع ته معرفي کوي.

## سرغړاوی (تخطي) او تأدیب

نهمه ماده:

(۱) که چېرې په اداره کې د ښځې شکایت، په وظیفوي اجراآتو پورې مربوط وي، د دلایلو او شواهدو د موجودیت په صورت کې کمېسیون د کار د قانون او د سرغړوونکي په تأدیب پورې د نورو اړوندو تقنیني سندونو د حکمونو مطابق، تصمیم نیسي.

(۲) د تأدیب تصمیم په لیکلي توګه سرغړوونکي ته ابلاغېږي.

## له شکایت څخه انصراف

لسمه ماده:

(۱) شاکي کولای شي د پنځو کاري ورځو په ترځ کې له خپل شکایت څخه په لیکلي توګه انصراف وکړي.

(۲) کمېسیون ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې له دې څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته چې انصراف په بشپړه توګه داوطلبانه او پرته له اجباره څخه دی، موضوع اړوندې

متخلف را به مراجع عدلی و قضائی معرفی می نماید.

## تخطی وتأدیب

مادۀ نهم:

(۱) هرگاه شکایت زن در اداره مرتبط به اجراآت وظیفوی باشد، در صورت موجودیت دلایل و شواهد، کمیسیون طبق احکام قانون کار و سایر اسناد تقنینی مربوط به تأدیب متخلف تصمیم اتخاذ می نماید.

(۲) تصمیم تأدیب به صورت کتبی به متخلف ابلاغ می گردد.

## انصراف از شکایت

مادۀ دهم:

(۱) شاکی میتواند در خلال مدت پنج روز کاری از شکایت خود طورکتبی انصراف نماید.

(۲) کمیسیون در حالت مندرج فقرۀ (۱) این ماده بعدازحصول اطمینان از اینکه انصراف کاملاً داوطلبانه و بدون اجبار است، موضوع را به ادارۀ مربوطه اطلاع

اداري ته خبرور کوي.

(۳) که چیرې شاکي د رسیدګۍ او د دلایلو د وړاندې کولو په منظـور، د ۵ کاري ورځو مودې په ترڅ کې، کمېسیون ته حاضر نه شي، پاتې دې حفظ شي.

(۴) که چېرې ثابته شي چې شاکي، لـه خپل شکایت څخه د ناوړې استفادې یـا ناجایزې ګټې د ترلاسه کولو نیت لري، کمېسیون، د قانون د حکمونو مطـابق د هغه د تأدیب تصمیم نیسي.

## د کمېسیون د فعالیت ډول

یوولسمه ماده:

د کمېسیون د فعالیت ډول، پـه هغـه کړنلاره کې چې د ښـځې پـرخلاف د تاوتریخوالي د منع د عالي کمېسیون لـه خوا تصویبېږي، تنظیمېږي.

## څلورم فصل

## وروستي حکمونه

### د تدبیرونو نیول

دوولسمه ماده:

اداره مکلفـه ده، د ښـځو لـه ازار او ځورولو څخه د امن او خوندي چاپېریال د

می دهد.

(۳) هرگاه شاکی به منظور رسیدگی و ارائه دلایل درخلال مدت ۵ روز کاری به کمیسیون حاضر نگردد، اوراق حفظ گردد.

(۴) هرگاه ثابت شود کـه شـاکی از شکایت خود قصد استفادهٔ سوء و یـا کسـب منفعـت ناجـایز را دارد، کمیسیون، مطابق احکام قانون به تأدیب وی تصمیم اتخاذ می نماید.

## طرز فعالیت کمیسیون

مادهٔ یازدهم:

طرز فعالیت کمیسیون، درطرزالعمل که از طرف کمیسیون عالی منع خشـونت علیه زن تصویب مـی شـود، تنظـیم می گردد.

## فصل چهارم

## احکام نهائی

### اتخاذ تدابیر

مادهٔ دوازدهم:

اداره مکلف است، به منظورفراهم نمـودن محیط امن ومصئون از آزار واذیت زنان،

برابرولو په منظور، لازم تدبیرونه ونیسي.

## د آګاهي ورکولو برنامې

دیارلسمه ماده:

اداره مکلفه ده، ددې مقررې له حکمونو څخه د خبرتیا په منظور، د اړوندو کارکوونکو لپاره لازمې برنامې طرح او تطبیق کړي.

انفاذ

څوارلسمه ماده:

دغه مقرره، په رسمي جریده کې له خپریدو وروسته نافذیږي.

تدابیر لازم را اتخاذ نماید.

## برنامه های آگاهی دهی

مادهٔ سیزدهم:

اداره مکلف است، به منظور آگاهی از احکام این مقرره برنامه های لازم را برای کارکنان مربوط، طرح وتطبیق نماید.

انفاذ

مادهٔ چهاردهم:

این مقرره بعد از نشر در جریدهٔ رسمی نافذ می گردد.

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- Law on Travel and Residence of Foreign Citizens in Islamic Republic of Afghanistan
- Regulation on Prohibation of Women harassment.

**Date:3rd October .2015**

**ISSUE NO :(1185)**